مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۴مه | ۷۵۰مه ګڼه

# د جګړې پر بندېدو او سولې ټینګار؛

## حامد کرزی: ښکېلې خواوې دې روانه پرده، جګړه ودروي او د سولې فرصت دې نه ضایع کوي



۳

### د حامد کرزي ډاډ ښه دی، خو څومره پرې تکیه کېدای شي؟

۲ مخ

### ترک‌ها و افغان‌ها باید با روحیه‌ی برادری و پیوند تاریخی شان در برابر فتو (FETÖ) مبارزه نمایند

۲ مخ

### شل کلنې جګړې افغانستان ته څه ورکړل؟

۳ مخ

## سرګې لاوروف: امریکا د افغانستان په شاوخوا کې د پوځي اډو جوړولو په لټه کې ده

روسیه وايي، د امریکا متحده ایالتونه د افغانستان په شاوخوا کې د نظامي اډو د جوړولو په لټه کې ده.

د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف ویلي، امریکا لا هم له افغانستان نه ده وتلې او په دغه هېواد کې نظامي مداخلې او هوایي بریدونو ته لېوالتیا لري. دده په وینا، امریکا دمګړی په دې لټه کې ده چې د افغانستان په شاوخوا کې نظامي اډې ولري او له دې ځایه د دغه هېواد وضعیت وڅاري. هغه زیاته کړې چې امریکا به له دې نظامي اډو په افغانستان کې هوایي بریدونه تنظیموي او هغه سیمې به په نښه کوي چې د دوی ګټو ته خطر جوړوي. لاوروف هغه سیمې نه دي یادې کړې چې امریکا پکې د اډو جوړولو پلان لري، خو تر دې وړاندې داسې ګنګوسې او راپورونه خپاره شوي چې امریکا غواړي په پاکستان او یا هم د منځنۍ اسیا په هېوادونو کې نظامي اډې جوړې کړي او داسې ښکاري چې پاکستانی حکومت به په پټه دا پرېکړه ورسره ومني. په ورته مهال امریکا تر اوسه په دې اړه په رسمي توګه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې ټینګار کړی، چې له دغه هېواده د ځواکونو تر ایستلو وروسته به په سیمه کې به خپلو شته اډو د افغانستان وضعیت مهار کړي.


## ملګري ملتونه: د روانو جګړو له کبله ښایي په افغانستان کې بشري ناورین رامنځته شي



۲ مخ

کتاب
۴ مخ

## انسان د مانا په لټون




د کتاب ژباړن وايي: د دې کتاب ستاینه مې لومړی ځل د سټیفن کووې «د اغېزناکو خلکو ۷ عادتونه» کتاب د ژباړې پر وخت لوستې وه. سټیفن، ډاکټر ویکتور فرېنکل فعال...

## سوداګرۍ وزارت: اردن ته د افغاني صادراتو په کچه کې ۷۰ سلنه ډېروالی راغلی



د صنعت او سوداګرۍ وزارت چارواکي وايي چې د تېرکال په پرتله له افغانستانه اردن ته په صادراتو کې ۷۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د دغه وزارت ویاند فواد احمدي وايي چې له افغانستانه اردن ته کرنیز محصولات، د تالک او سکرو ډبرې، جلغوزي، څېره، د هندوانو تخم، تازه مېوه او نورو بېلابېل توکي صادرېږي.
د احمدي په خبره، په منځنۍ ختیځ کې اردن څلورم هېواد دی، چې له افغانستانه ورته زیات صادارت کېږي. نوموړی زیاتوي، هڅې یې پیل کړې چې د عمان بندر له لارې له منځنۍ ختیځ هېوادونو او د فارس خلیج له حوزې سره خپلې سوداګریزې اړیکې لا پراخې او صاردات ورته زیات کړي.
د یادونې ده چې افغانستان په دې وروستیو کې د ځمکې او هوایي دهلېزونو له لارې د سیمې هېوادونو په ځانګړې توګه، منځنۍ ختیځ هېوادونو ته صادرات زیات کړي، چې د صادارتو عمده برخه وچه او تازه مېوه او همداشان کاني اومه مواد دي.

## اتحادیه اروپا: در ربع اول سال جاری تلفات غیرنظامیان در افغانستان ۲۳ درصد افزایش کرده است



مسؤل سیاست خارجی اتحادیه اروپا اعلام کرده است که پس از بررسی وضعیت افغانستان با وزیران خارجه کشورهای اروپایی دریافته است که جنگ در افغانستان ضربه سنگین بر غیرنظامیان وارده کرده است و کشورهای جهان باید نقش سازنده‌ای در روند صلح افغانستان بازی کنند.
جوزف بورل، مسؤل سیاست خارجی اتحادیه اروپا در یک نشست مطبوعاتی گفته است که در ربع اول سال جاری تلفات غیرنظامیان در افغانستان رشد ۲۳ درصدی داشته است.
در همین حال، بورل تصریح کرده است که اتحادیه اروپا حملات فزاینده بر گروه‌های مذهبی و قومی را محکوم می کند.
از سویی هم، وزیران خارجه کشورهای عضو این اتحادیه از طالبان خواسته‌اند تا در مذاکرات اساسی و فراگیر صلح اشتراک کنند.
افزون بر این، بورل از کشورهای منطقه و جهان خواسته است که تا نقش سازنده‌ای را در حمایت از روند صلح افغانستان بازی کنند. به گفته مسؤل سیاست خارجه اتحادیه اروپا، قرار است، روزهای آینده در نشستی که در شهر تاشکند پایتخت اوزبیکستان برگزار می‌شود اشتراک کند.
بورل گفته است که با اشتراک در این نشست با بازی‌گران منطقه‌ای در مورد افغانستان تماس خواهد گرفت و نیز انتظار حضور محمداشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان، را در آن‌جا دارد. در این نشست زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا نیز شرکت می کند.




## سرلیکنه

### د حامد کرزي ډاډ ښه دی، خو څومره پرې تکیه کېدای شي؟

پخوانی ولسمشر حامد کرزی پرون په یوه خبري کنفرانس کې را ښکاره شو او د نورو مسایلو تر څنګ یې وویل چې ژر به د سولې جدي خبرې پیل شي او یوې پایلې ته به ورسېږي. حامد کرزي پر خلکو او په ځانګړي ډول ځوانانو غږ وکړ چې په همدې هېواد کې پاتې شي او خدمت وکړي. نوموړي وویل هغه وېره باید له ځانه لرې کړو چې په رسنیو کې یې اورو. د ده په وینا، حالات به سم شي او د سولې خبرې به نتیجه ورکړي. حامد کرزي پر طالبانو او حکومت هم غږ وکړ چې جګړه ودروي، ځکه دا یوه پردۍ دسیسه ده او د دسیسې د شنډولو لپاره باید سوله وشي.

په داسې حال کې چې خلک حالاتو سخت اندېښمن کړي او له ناوړه راتلونکې وېره لري، د پخواني ولسمشر دا څرګندونې ډېرې مهمې دي. دا خبرې خلکو ته ډاډ ورکوي او مثبته روحیه اخلي. په دې خبرو سره خلکو ته دا پیغام هم رسېږي چې د سولې لپاره هڅې روانې دي او ځینې مشران په دې چاره کې هلې ځلې هم کوي. که نور مشران هم د حامد کرزي په شان را څرګند شي او همداسې واضح او مثبتې خبرې وکړي او د سولې لپاره جدي ګامونه واخلي، نو د خلکو به اندېښنې لرې شي او له راتلونکې به یې وېره کمه شي. له همدې امله د حامد کرزي خبرې مثبتې او یو ښه ډاډ دی.

د حامد کرزي ډاډ که ښه دی، خو پوښتنه دا ده چې څومره تکیه پرې کېدلی شي؟ دا سمه ده چې د سیاسي مشرانو یو کار دا دی چې خلکو ته ډاډ او روحیه ورکړي، خو ورسره سم باید د هغه حالت لپاره هم هلې ځلې وکړي چې خلک پکې ډاډمن کېدلی شي. د سولې په پروسه کې د حامد کرزي مثبت رول څرګند دی او له هلو ځلو یې هم ښکاري چې سوله غواړي او په دې برخه کې په خپل ټول وس او توان کار کوي. له بله اړخه حامد کرزی په همدې هېواد کې دی، بچیان او کورنی یې همدلته دي، نو ځکه دا چاره هم خلکو ته ډاډ ورکوي. اوس پکار ده چې نور مشران هم خلکو ته همداسې ډاډ ورکړي، خو ورسره سم هم باید خپلې کورنۍ او بچیان دلته وساتي او هم باید د سولې لپاره عملي او رښتینې هلې ځلې وکړي. دا چاره کولی شي چې نه یوازې د خلکو وېرې او اندېښنې کمې کړي، بلکې په عملي ډول د راتلونکې ګواښ مخه ونیسي او سولې ته لاره هواره کړي.

اوس د جګړې دواړو اړخونو ته پکار ده چې هغه دسیسې درک کړي چې حامد کرزي یې یادونه وکړه او د جګړې پر ځای پر سوله تمرکز وکړي. دوی که څه هم په خبرو کې دا کار کوي، خو خلک هیله لري چې په عمل کې دا کار وکړي. د جګړې دواړه اړخونه باید نور د جګړې عمل، خبرې او ذهنیت بند کړي او پر ځای یې د سولې خبرې، عمل او ذهنیت خپل کړي. په دې ډول به هم دوی د بهرنیو له دسیسو ژغورل شوي وي او هم افغانستان.

## ترک‌ها و افغان‌ها باید با روحیه‌ی برادری و پیوند تاریخی شان در برابر فتو (FETÖ) مبارزه نمایند

**محترم جیهاد ارگینای**، سفیر کبیر کشور ترکیه مقیم افغانستان



این هفته، ترکیه پنجمین سالگرد اقدام کودتای ۱۵ جولای سال ۲۰۱۶ را که توسط فتح الله گولن و گروه تروریستی وی (FETÖ) صورت گرفته است، را گرامی می دارد. حمله به نهادهای دموکراتیک ترکیه منجر به جان باختن ۲۵۱ تن و زخمی شدن بیش از ۲۰۰۰ تن گردیده است.

کودتاگران خائن که از جانب فتو در داخل ارتش ترکیه به گمراهی سوق داده شده بودند، دست بر سرنگون سازی حکومت که از طریق انتخابات مردم سالاری روی کار آمده بود، زده و بدون تردید نهادهای دموکراتیک ترکیه را مورد هدف قرار دادند. شبکه تروریستی فتح الله (FETÖ) بر کاخ ریاست جمهوری یورش برده و پارلمان ترکیه را زمانی مورد بمبارد قرار دادند که وکلای پارلمان در حال جلسه بودند و همچنان تلاش نمودند تا رئیس جمهور را نیز ترور نمایند. تروریست‌ها به شکل خشونت آمیز بالای مراکز رسانه‌های آزاد که در همچو وضعیت دشوار برای دفاع از مردم سالاری هیچگاه نشرات زنده شان را متوقف نموده بودند، هجوم بردند.

ملیون‌ها شهروند ترکیه، دیدگاه های سیاسی شان را کنار گذاشته و برای ایستادگی در برابر توطئه‌گران که قانون اساسی را زیر پا کرده بالای شهروندان بی گناه شلیک می نمودند، متحد شدند. مردم ترکیه در اتحاد با همدیگر، اجازه ندادند تا یک گروه مسلح مردم سالاری، آزادی و طرز زندگی شان را به غارت ببرد. ۱۵ جولای یک تهدید آشکار بر موجودیت بوده که مستقیم تأسیس دولت ترکیه را هدف قرار داده است. این حمله، بدترین حمله تروریستی در طول تاریخ جمهوری ترکیه می باشد. همچنان ۱۵ جولای یک آزمایشی از قوت و اراده مردم سالاری کشور ترکیه بوده است. تمامی احزاب سیاسی هم در قدرت و هم در اپوزیسیون، اعضای قوای مسلح که متاثر نگردیده بودند، پلیس و رسانه‌ها همه با هم در مقابل کودتاگران ایستادگی کردند.

علاوه بر این همه، مردم ترک از همه جوانب اجتماعی و دارای دیدگاه های سیاسی مختلف، جهت دفاع از حقوق مردم سالاری شان ایستادگی کرده و یک نماد تاریخی از وحدت را به نمایش گذاشته و با ازخودگذری در مقابل تانک ها قرار گرفتند.

در حقیقت، حکومت ترکیه در برابر ساختارهای فرقه گرایانه و منابع مالی آنها قبل از ۱۵ جولای اقداماتی را عملی نموده بود. تصمیم بستن کورس‌های گروه فتو (FETÖ) که مرکز مهم سربازگیری و منبع بزرگ عایداتی برای این گروه محسوب می شد، یک ضربه قوی بر این ساختار وارد نمود. به تعقیب آن، تحقیقات اداری و عدلی در برابر جنبه های جنایی این نهاد از قبیل، تقلب در امتحانات رقابتی دخولی ادارات ملکی، شنیدن مکالمات تلفونی به شکل غیر قانونی، عملیات های پول شویی و در برابر چندین جرم دیگر نیز صورت گرفت. پلیس و نهاد عدلی نیز برای عزل و برطرف نمودن اعضای فتو (FETÖ) که در موقف های بلند دولتی قرار داشتند، اقداماتی را روی دست گرفته بود. به اختصار، فتو (FETÖ) در داخل کشور ترکیه توانایی اش را از دست داده بود. به تاریخ ۱۵ جولای سال ۲۰۱۶ تلاش شان برای بدست گرفتن دولت را، آخرین فرصت برای نجات می دانستند.

برخلاف مفکوره بعضی حلقات، فتو (FETÖ) یک حرکت مدنی بی ضرر آموزشی نبوده و دانستن گولن منحیث یک واعظ و دانشمند صلح گراء اسلامی، یک مفکوره بسی نادرستی خواهد بود. ما با یک ساختار جهانی روبرو بودیم که در صدد بدست آوردن قدرت و نفوذ جهانی بود. فتو (FETÖ) از طریق مکاتب، انجیوها، لابی ها، رسانه‌ها و شرکت‌ها، در بیشتر از ۱۵۰ کشور جهان به شمول افغانستان فعالیت داشت. واقعه که دقیقاً پنج سال قبل از امروز در کشور ترکیه رخ داد، نشان دهنده توانایی این ساختار مخفی است که در کشورهای که فعالیت دارد نیز همچو فعالیت ها را انجام خواهد داد.

(FETÖ) له کودتا څخه مخکې په افغانستان کې ۱۲ ښوونځي او درې د مطالعې مرکزونه اداره کول. دوی د هغې مغرضې موخې او د خپلو کړنو د مالي تمویل لپاره د دې ښوونځیو عایدات په غیرقانوني ډول له افغانستان څخه بهر ته لېږدول او یوه افغانی پانګونه یې هم په افغانستان کې نه ده کړې.

د افغانستان او ترکیې د پوهنې وزارتونو تر منځ د تړون له لاسلیک (کال ۲۰۱۸ فبروري) وروسته د (FETÖ) تړل شوي ۱۵ ښوونځي او د زده کړې مرکزونه وروسته له هغه د افغان-ترک معارف ښوونځي ته لیږدول شوي، چې ترکیې یاد ښوونځي په هرات، جلال آباد، شبرغان، مزارشریف، کابل او کندهار کې چې دوی جوړ کړي وو، ارزولي دي. موږ په کابل، کندهار، مزارشریف او هرات کې څلور اضافي ښوونځي او درې د مطالعې مرکزونه پرانیستي دي. یوازې دوی د ترکیې هیواد د روزنې د منل شوي سیستم رښتیني استازي دي، له دوی پرته کوم نور وګړي چې د «افغان-ترک» له نوم څخه ګټه پورته کوي، د FETÖ سازمان پاتې شوني دي چې لاهم د افغان زده کوونکو بې لارې کولو ته دوام ورکوي.

د قدیمي ورور او د رښتیني ملګري په توګه موږ د شهیدانو د ماشومانو تعلیم ته ځانګړې اهمیت ورکوو، چې د خپل هیواد په دفاع کې یې قرباني ورکړې. موږ د دې ماشومانو لپاره بورسونه هم چمتو کوو. بورسونه د هغو زده کوونکو لپاره هم لېږو چې له ښوونځي څخه په ښه درجه فارغېږي.

لکه څنګه چې زده کونکي او د هغوی مور او پلار د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړېدو شاهد دي او د هغوی مثبت نظرونه د افغانستان له چارواکو او خلکو سره شریکوي، نو موږ دې غوښتنې ته د لاسرسي په موخه هڅې پیل کړې څو د افغانستان د ښوونې او روزنې له سکتور سره خپلې ښکېلتیا ته لا قوي ادامه ورکړو. موږ ژمنه وکړه چې د افغانستان له پوهنې وزارت سره په ګډه کار وکړو څو د پوهنې ملي ستراتیژۍ پیاوړې شي. موږ د TMF پوهنې وزارت لپاره آنلاین کورسونه چمتو کړي او د COVID-19 ناروغۍ له لومړیو ورځو راهیسې یاد کورسونه فعال شوي. موږ د (FETÖ) لخوا رامنځته شوې د زده کړې شبکه د پیرودونکو اړیکو پر بنسټ د یوې لنډمهاله سوداګرۍ پر ځای یوې اوږدمهاله سوداګرۍ ته بدله کړه، چې ټول عواید به یې د افغانستان د پوهنې سیستم پیاوړی کړي.

په کړکېچن وضعیت کې لکه څرنګه چې د جولای په ۱۵مه په ترکیه کې رامنځته شو، موږ ته رښتینی ملګری(افغانستان) ښه مالوم شو. په یاده ورځ له ټولو هغو افغان ورونو او خویندو څخه مننه کوو چې له موږ یې خپل ملاتړ اعلان کړ. موږ په ګډه د کودتا هڅې ناکامې کړې. په دې اړه د افغانستان د خلکو پیوستون د دواړو هیوادونو په ګډ تاریخ کې یوه بله بې ساري یادونه ده. موږ ژمن یو چې افغانانو ته د ظرفیت لوړونې په برخه کې د هر ملاتړ په ورکولو سره خپله ژمنه بیا تازه کړو. هرڅومره چې ورته اړتیا وي، موږ به له هغوی خپله مرسته ونه سپموو. موږ د (FETÖ) پر وړاندې په دې مبارزه کې د افغان چارواکو لخوا له شوي ملاتړ څخه هم مننه کوو. دا ګډې هڅې به دوام لري. یوځو تنه چې دلته ځینې خلک بې لارې کوي او په افغانستان کې له (FETÖ) عناصرو سره د شخصي ګټو لپاره مرسته کوي، باید په دې پوه شي چې د دوی هڅې بې ګټې دي او دوی به ونشي کولی دا ځل د دوو ورونو هیوادونو تر منځ دا اړیکې خرابې کړي.

## ملګري ملتونه: د روانو جګړو له کبله بنايي په افغانستان کې بشري ناورين رامنځته شي

د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې په افغانستان کې د روانو جګړو له امله د بشري ناورین پېښېدو په تړاو خبرداری ورکړی دی.

یادې ادارې ویلي، چې د روان کال له جنورۍ میاشتې څخه بیا تر دې مهاله ۲۷۰زره افغانان د جګړو له امله له خپلو سیمو څخه بې ځایه شوي دي. راپور زیاتوي، په وروستیو اونیو کې ګڼو کسانو د بې ځایه کېدو اصلي لامل د جګړو زیاتوالی، د غیر دولتي وسله والو ډلو لخوا باج اخیستل، د سړک غاړې ماینونه، د ټولنیزو خدمتونو بندېدل او د جګړو له امله د خپلو مالونو او ثارویو ضایع کېدل یاد کړي دي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداره دغه راز وایي، چې د جګړو له امله تازه بېځایه شوې کورنۍ بېړنو لومړنیو مرستو ته اړتیا لري او په خبره یې، دغه اداره له خپلو نورو همکارانو سره په ګډه له تازه بې ځایه شوو کورنیو سره د اوسېدو بېړنیو ځایونو، روغتیا،



اوبو، خوړو او نقدي مرسته کوي.

د جګړو ترځنګ، د کرونا ویروس اغېز، بېکارۍ، وچکالي او فقر نور هغه عوامل بلل شوي، چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي. د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې زیاته کړې، که د سولې توافق رامنځته نه شي او د تاوتریخوالي مخه ونه نیول شي، دا اندېښنه شته چې هم په کور دننه او هم بهر ته د افغان کډوالو شمېر زیات شي.

راپور وایي، چې له ۲۰۱۲ز کال څخه بیا تر دې مهاله په افغانستان کې د بې ځایه شویو کسانو شمېر څه باندې ۳.۵میلیون تنو ته رسېږي. د یادې ادارې د معلوماتو په اساس، اوسمهال په ایران او پاکستان کې څه باندې دوه میلیونه افغانان د کډوالۍ شپې او ورځې سبا کوي.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره دغه راز زیاتوي، نړیواله ټولنه باید په دې حساس وخت کې د افغانستان د حکومت او خلکو ملاتړ ته دوام ورکړي.یادې اداره داسې مهال په افغانستان کې د بشري ناورین پېښېدو په اړه اندېښنه ښودلې، چې اوسمهال د افغانستان له ګڼو ولایتونو څخه د جګړو راپورونه ورکړل شوي دي.

بلخوا د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت مطبوعاتي سلاکار سید عبدالباسط انصاري وایي چې د دوی د معلوماتو په اساس، په تېرو څه باندې دریو میاشتو کې ۳۵زره کورنۍ د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د جګړو له امله بېځایه شوي دي.

# شل کلنې جګړې افغانستان ته څه ورکړل؟

لیکواله: د چین د ټولنیزو علومو اکاډمۍ غړې؛ **وانګ فنګ**
ژباړه: **غاټول؛** د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

۲۰۲۱ کال په امریکا کې د سپټمبر د یوولسمې پېښې د رامنځته کېدو له شلمې کالیزې سره برابر دی او هم په افغانستان کې د امریکا د پیل شوې جګړې شلمه کالیزه ده. یادې جګړې چې اوږده موده یې دوام وکړ، امریکايي سرتېرو ته سخته مرګ‌ژوبله اړولې او په پایله کې امریکايي ځواکونه اړ شول، چې له دغه هېواد څخه ووځي. د ولسمشر جو بایډن په مشرۍ د امریکا حکومت د ۲۰۲۱ کال د اپریل په څوارلسمه اعلان وکړ، چې د همدې کال د سپټمبر تر یوولسمې پورې به له افغانستان څخه ټول امریکايي سرتیري وباسي. دوی په افغانستان کې شل کاله تېر کړل، خو دغه هېواد ته یې څه ورکړل؟

د سپټمبر د یوولسمې تر پېښې وروسته امریکا پر افغانستان برید وکړ، چې په پایله کې یې د طالبانو رژیم نسکور شو او له دې هېواد څخه د القاعدې سازمان وشړل شو. تر هغه وروسته امریکا په دوامداره توګه په دغه هېواد کې د تش په نامه د ترهګرۍ ضد مبارزه وکړه او د افغانستان د بیارغونې لپاره یې هڅې وکړې، چې له امله یې په دغه هېواد کې دیموکراتیک جمهوري سیاسي نظام جوړ شو او اقتصاد یې په چټک سرعت سره پرمختګ وموند او ملي امنیتي ځواکونه یې جوړ کړل.

افغانستان ته د امریکا له راتګ څخه شل کاله تېر شول، خو دغه هېواد لا هم له شخړو او کړاوونو تېرېږي. په افغانستان کې د امریکا لخوا د پیل شوې جګړې یوه ستراتیژیکه موخه دا ده، چې افغانستان به بیا د ترهګرو پټنځای نه ګرځي، خو دغه موخه لا اوس هم نه ده پوره شوې. که څه هم د طالبانو رژیم نسکور شو، خو په ۲۰۰۳ کال کې دوی بیا تنظیم شول او د حکومت او امریکا ضد سیاسي او پوځي قوت ګرځېدلی، چې د غړو شمېر یې له اتیا زرو څخه زیات دی. پر طالبانو سربېره، د القاعدې او داعش په ګډون ځینې نورې تُندلارې ډلې هم په افغانستان کې فعالې دي. د ۲۰۱۹ کال په جون کې د نړیوالې سولې کلنی راپور خپور شو، چې له مخې یې افغانستان د سوریې پر ځای په نړۍ کې ناامنه هېواد یاد شوی و.

شل کلنه جګړه په افغانستان کې د سخت بشري ناورین د رامنځته کېدو سبب شوې ده. تر ۲۰۱۹ کال پورې د دغې جګړې له امله څلوېښت زره افغانان وژل شوي او د ټپیانو شمېر یې له شپېتو زرو څخه اوښتی او شاوخوا یوولس میلیونه خلک یې کډوال شوي دي.

د همدې جګړې له امله افغانستان په نړۍ کې یو وروسته پاتې هېواد ګرځېدلی، صنعتي او کرنیز بنسټ یې کمزوری شوی او د غلو دانو تولید یې خپلې اړتیاوې هم نشي پوره کولی. دغه راز اقتصاد یې د نورو هېوادونو پر مرستې تکیه کوي او ډېر خلک یې بېوزله دي. له ۲۰۱۹ څخه تر ۲۰۲۰ مالي کال پورې د افغانستان د کورنیو تولیداتو عمومي ارزښت شاوخوا ۱۸ میلیارده او ۸۹۰ میلیونه امریکايي ډالره ښودل شوی، چې د هر تن په سر کلنی عاید یې ۵۸۶ اعشاریه ۶ امریکايي ډالره ښودل شوی دی.

که څه هم د دغه هېواد مالي عایدات کال په کال زیاتیږي، خو په تېرو مسلسلو کلونو کې یې عایدات د لګښتونو لپاره کافي نه دي او ۶۰ سلنه مالي بودیجه له نړیوالو مرستو څخه تر لاسه کوي.

د دې تر څنګ، په دغه هېواد کې د وزګارۍ اندول په تېرو څو کلونو کې زیات شوی او په ۲۰۱۹ کال کې د دغه اندول په سلو کې ۴۰ ته رسېدلی دی. ځینې کارکوونکي هره میاشت یوازې شپېته امریکايي ډالره معاش تر لاسه کوي او د ژوند تېرول ورته ستونزمن کار دی.

په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد د جګړې او د دغه هېواد د بیارغونې ناکامېدل له بېلابېلو عواملو سره تړاو لري، چې په دې جمله کې امریکا د دې جګړې د پېلولو تر ټولو لوی عامل دی.

لومړی؛ تر سړې جګړې وروسته امریکا په نړۍ کې یوازینی هېواد دی، چې د باداري د لټولو لپاره یې په نورو هېوادونو کې جګړې پیل کړې، چې له امله یې په افغانستان کې هم د ترهګرۍ ضد جګړې موده اوږده شوې ده.

دویم؛ امریکايي پوځ په تېرو شلو کلونو کې په افغانستان کې کله نا کله بې ګناه ملکیان هم وژلي او په دغه هېواد کې یې مذهبي او کلتوري چارې له پامه غورځولې او پر بندیانو یې ډېر ظلم کړی دی، چې له امله یې د افغانانو غصه را پارېدلې او له همدې امله هم ډېر خلک د امریکا او حکومت ضد ډلې کې شامل شوي دي.

درېیم؛ لوېدیځه ډیموکراسي د افغانستان له مشخصاتو سره سمون نه لري، ځکه عصري ډیموکراتیک سیاسي نظام په اروپايي هېوادونو او امریکا کې جوړ او عملي شوی، چې دغه نظام په دغو هېوادونو کې په تېرو څو پېړیو کې د ریسانس او صنعتي انقلاب په ګډون له بېلابېلو پړاوونو تېر شوی او وروسته یې په اروپايي او امریکايي هېوادونو کې ځای نیولی دی، خو افغانستان د دغه نظام د جوړېدو لپاره مناسب اقتصادي او کلتوري بنسټ نه لري.

تېرو شلو کلونو ته په کتو، دغې جګړې افغانستان ته یوازې شخړه او بېوزلي راوړې ده.

# زلمي خلیلزاد په دوحه کې له مذاکراتي ټیمونو د سولې خبرو د چټکتیا غوښتنه کړې

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمی خلیلزاد چې روانه اونۍ د سیمې په سفر راوتلی، په دوحه کې یې د افغان سولې په اړه له بېلابېلو لوریو سره خبرې کړې دي. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو مرکچي پلاوي وایي، دواړه لوریو له خلیلزاد سره کتلي او سولې خبرو پر چټکتیا یې ټینګار کړی دی.

په دې لیدونو کې پر نورو موضوعاتو سربېره، هر څه ژر د شخړې په سیاسي حل بحث شوی او ترڅنګ یې د سولې خبرو په چټکتیا او اغېزمنتوب هم خبرې شوې دي. د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري وایي، په دې لیدنه کې د سولې خبرو د روان بهیر د ستونزو په اړه هم بحث شوی دی.

انوري زیاتوي: «دواړو لوریو په دې اړه چې هرڅه ژر باید ستونزې پای ته ورسېږي او د خبرو لړۍ چټکه شي، ټینګار وکړ. همدا ډول ښاغلي خلیلزاد د سولې له بهیر سره د خپل هېواد په ملاتړ هم ټینګار وکړ.»

په ورته مهال په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم هم وایي، چې له خلیلزاد سره په لیدنه کې په راتلونکي کې د سولې مذاکراتو د پرمخ وړلو پر څرنګوالي هم خبرې شوې دي. هغه زیاته کړې چې د افغانستان پر وضعیت هم پوره بحث شوی، خو نوموړی په دې اړه له ډېرو جزیاتو ډډه کوي.

زلمي خلیلزاد داسې مهال په دوحه کې له افغان او طالب مرکچي پلاوو سره ګوري، چې په افغانستان کې جګړه او تاوتریخوالی چټک شوی او د کمېدو هېڅ څرک یې نه لیدل کېږي. طالبان هره ورځ په ولسوالیو او ښارونو بریدونه کوي او افغان حکومت هم د مقابل برید خبره او دې ډلې ته د درنې مرګ‌ژوبلې اړولو ادعا کوي. په همدې حال کې امریکا وایي، دوی په تلپاتې ډول د تاوتریخوالي د پای غوښتونکي دي. د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند نېډ پرایس رسنیو ته قطر ته د زلمي خلیلزاد سفر ته په اشارې ویلي، هغه د تاوتریخوالي د کمېدو او سیاسي حل ته د رسېدو لپاره د متحده ایالتونو پیغام رسولی دی.



# د جګړې پر بندېدو او سولې ټینګار؛

## حامد کرزی: ښکېلې خواوې دې روانه پردۍ جګړه ودروي او د سولې فرصت دې نه ضایع کوي

د افغانستان پخوانی ولسمشر حامد کرزی په هېواد کې روان امنیتي وضعیت د امریکا د تېرو دوو لسیزو د ناسمو پالیسیو او دغه راز سیمه ییزو قدرتونو د ناسالمو سیالیو پایله بولي، خو ټینګار کوي چې افغانان باید له روان وضعیت نهیلي نه شي او د یوې ښې راتلونکې لپاره دې خپلې هڅې ډېرې کړي. نوموړی زیاتوي: «زموږ هیله دا وه چې د لویو قدرتونو سیاست به بدلون وکړي او لوی قدرتونه به له یو او بل سره په سیالۍ کې د افراطیت له وسایلو ګټه وانه خلي، خو له بده مرغه اوس هم وینو چې دغه څه دوام لري».

نوموړی ده راز وايي، چې افغانانو په تېرو دوو لسیزو کې ډېرې لاسته راوړنې درلودې، خو هېواد اوس د بهرنۍ جګړې له کبله له یوه حساس پړاوه د تېرېدو په حال کې دی او افغانان د خپل یووالي او ورورولۍ په ساتلو سره له دغه حالته راوتلی شي. د کرزي په خبره: «دا حالت تېرېدونکی دی، جګړه د پردیو ده، د دې پردۍ جګړې څخه د وتلو لاره ورورولي او سوله ده، موږ سولې ته رسېږو، تاسو به ډېر ژر د سولې د جدي خبرو د بیا پیل شاهدان واوسئ او د سولې خواته به ولاړ شئ.»حامد کرزی دغه راز ډاډ ورکوي، چې ډېر ژر به د سولې په تړاو په دوحه کې جدي بین الافغاني خبرې پیل شي او پر ښکېلو خواوو هم غږ کوي چې د عامه تاسیساتو له ویجاړولو ډډه وکړي او د سولې لپاره دې اوسني فرصتونه له لاسه نه ورکوي. کرزی وایي: «دواړو افغاني لورو ته وایم، چې تاسې د دې خاورې څښتنان یئ، له یو او بل سره کېنئ، سوله وکړئ او هېواد له دغه وضعیت څخه ازاد کړئ».




نوموړی پر ځوانانو هم غږ کوي، چې د بهرنیو هېوادونو په غوښتنه دې خپل هېواد نه پرېږدي او خپله ټولنه انرژي دې د افغانستان پر ابادۍ او بیا رغونې ولګوي، ځکه د نوموړي په خبره، یاد هېوادونه غواړي ترڅو د افغان ځوانانو له انرژۍ په ګټې اخیستنې سره خپل هېوادونه اباد کړي. هغه زیاتوي: «هغو ځوانانو ته چې امریکا ورته وایي چې له موږ سره مو خدمت کړی، راسره لاړ شئ، ورته وایم چې مه ځئ! د دوی دغه وړاندیز مه منئ، هغو ستاسو له زده کړو او انرژۍ په خپل هېواد کې ګټه اخلي، په خپل هېواد کې پاتې شئ او خدمت وکړئ».

ښاغلي کرزي طالبانو ته په خطاب کې وویل چې د ولسوالیو په نیولو سره کوم ځای ته نه رسېږي او په خبره یې، ښه به دا وي چې سوله غوره کړي. د نوموړي په خبره، په تېرو دوو لسیزو کې جوړ شوي تاسیسات د افغانستان د خلکو دي، نه د بهرنیانو او پر طالبانو یې ټینګار وکړ چې د دغو تاسیساتو له ورانولو ډډه وکړي. د هغه په وینا: «سړک، پل، پلچک او نور بنسټونه مه ویجاړوئ».

د هېواد پخوانی ولسمشر داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې له هېواده د ټولو بهرنیو ځواکونو وتلو او دغه راز د جګړو شدت خلک پر سولې بې باوره کوي او ډېریو ځوانانو بهرنیو هېوادونو ته د تښتې لاره خپله کړې.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرینکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**



### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

زموږ له ډلې سره چې کوم کاپو (ساتونکی) و، له ښه مرغه زما منندوی شو، ځکه موږ به چې کار ته اوږد مزل کاوه، ده به راته د خپلې مینې او کورنیو ستونزو کیسې کولې، له دې امله راته لږ لېواله شوی و.
ما د هغه کرکټر تشخیص کړ او ځینې اروايي سپارښتنې مې ورته وکړې. په دې کار مې لږ اغېز پرې پیدا کړ. تر دې وروسته بیا هغه له ما منندوی و او دې کار ما ته ارزښت درلود. وروسته یې راته بیا څو ځله زموږ په ډېه کې، له لومړي تر پینځم قطاره پورې له ځان سره په خوا کې یو ځای پرېښوده. موږ به عموماً په یوه ډبه کې دوه سوه او اتیا تنه وو. دغه پېرزوینه یې مهمه وه. سهار به لا رڼا خپره شوې نه وه؛ خو موږ باید په لیکه ولاړ وای. هر څوک به له ځنډېدو او په وروستي قطار کې له درېدو ډارېدل. که به کوم سخت او ناخوښه کار ته څوک پکار شول، نو مشر کاپو به ناڅاپه راپیدا شو او عموماً به یې له وروستي قطاره د اړتیا وړ خلک بېل کړل. دا کارونه به زیاتره سخت او د نابلده کاپوګانو تر نظر لاندې وو. زیاتره وخت به مشر کاپو له لومړیو پینځو قطارونو خلک ټولول، دا کار به یې د هغو خلکو د نیولو لپاره کاوه چې چالاکي به یې کوله. ټولې نیوکې به یې په څو ښایسته لغتو غلې کړې او ټاکل شوي خلک به د کار تر ځایه په چیغو او وهلو رسول کېدل.
خو تر څو پورې چې زموږ د ډلې کاپو له ما سره د زړه خواله ته اړتیا درلوده، دا پېښه به له ما سره نه کېده، ځکه ما د هغه ترڅنګ ځان ته یو امتیازي ځای پوخ کړی و. خو دې یوه بله ګټه هم درلوده. د کمپ د نږدې ټولو بندیانو په څېر زه هم د پښو له پړسوبه رنځېدم. پښې به مې دومره پړسېدلې وې او جلد به یې دومره کش شوی و چې زنګنونه به مې په سختۍ راټولولای شول. په پړسېدلو پښو مې چې بوټان په پښو کولای، نو بندونه مې یې باید خلاص پرېښي وای. که جرابې مې درلودای، هم یې د پښو کولو لپاره په بوټ کې ځای نه و. نو زما لوڅې پښې به تل لمدې وې او بوټان به مې تل له واورو ډک وو. دې کار به مو حتماً پښې په یخ وهلای او پړسولای، بیا مو چې هر ګام اخیستی، عذاب به و. پر اوږدو لارو به مو چې بوټان له واورو ډک شول، نو زندانیان به غورځېدل او څوک به چې ورپسې په لیکه کې روان وو، دوی به هم ورسره غورځېدل. په دې وخت کې به لیکه یو څو شېبې ودرېده؛ خو تر ډېره به نه وه. په دې وخت کې به ساتونکو ځنډ نه کاوه، د ټوپک کنداغ به یې بندیانو ته نیوه او بېرته به یې رادرول. نو څومره به چې د قطار په سر کې وې، هومره دا خطر لږ و چې د بل د غورځېدو له امله ته هم غورځېدلی وای او بیا دې بېرته په قطار پسې د ځان رسولو لپاره په پړسېدلو او دردمنو پښو منډې وهلې وای. زه بیا هم بختور وم چې د ښاغلي کاپو ځانګړی طبیب شوی وم او د قطار په لومړي سر کې به ورو ورو روان وم.
زما د خدمت یو بل بدل هم و، هغه دا چې په کارځای کې به کله د ډوډۍ پر وخت ښوروا وېشل کېده او زما نوبت به چې راورسېد، نو زه ډاډه وم چې کاپو به څمڅۍ د دېګ بېخ ته ښکته کوله او یو څو دانې مټر به پکې راوتل. د پوځ دې پخواني افسر او اوسني کاپو دا جرات هم درلود چې سرکاریګر ته به یې په غوږ کې زما په اړه ویل: «دا ډېر ښه کاریګر دی.» زما له دې سرکاریګر سره نه لګېده. سره له دې چې دغې سپارښتنې هېڅ ګټه نه کوله؛ خو هغه به زما ژوند ژغوره (او څو ځله یې ژغورلی هم دی). په کومه ورځ مې چې له سرکاریګر سره شخړه راغله، په سبا یې زه پټ بلې کاري ډلې ته ولېږم.
داسې سرکاریګر هم وو چې پر موږ به یې زړه خوږېده او خپله ټوله هڅه به یې کوله چې لږ تر لږه د کار په ځای کې راته لږه اسانتیا رامنځته کړي. خو حتی دوی هم راته دا ویل چې عادي کاریګر تر دې په لږ وخت کې تر موږ څو چنده ډېر کار کوي. خو دوی دې ته نه کتل چې عادي کاریګر په درې سوه ګرامه ډوډۍ ژوند نه کوي او زموږ تر دې هم لږه وه. **دوام لري...**

# انسان د مانا په لټون

اکسوس کتابپلورنځی

د کتاب ژباړن وايي: د دې کتاب ستاینه مې لومړی ځل د سټیفن کووې «د اغېزناکو خلکو ۷ عادتونه» کتاب د ژباړې پر وخت لوستې وه. سټیفن، ډاکټر ویکتور فرېنکل فعال (Proactive) انسان معرفي کړی و او د دې کتاب لوستل یې د هر چا لپاره اړین بللي وو. ما چې د هغه کتاب ژباړه خلاصه کړه، دا کتاب مې پیدا کړ؛ خو له بده مرغه متن یې زما تر تمې ډېر سخت و. په هغه وخت کې مې د دې ورو ژباړه پیل کړه، بیا چې زه پر ځینو نورو کارونو بوخت شوم، د دې کتاب کار رانه ځنډنی شو. له ښه مرغه اوس مې بیا وخت ورکړ او کتاب مې بشپړ کړ.
د کتاب د نوم موضوع جالبه ده. د کتاب انګلیسي نوم، فارسي ته ټکي په ټکي (انسان در جستجوی معنا) ژباړل شوی دی؛ خو په انګلیسي ژبه کې Meaning د موخې په مانا ډېر کارېدلی دی. ما چې ژباړه کوله، د شکتي ګاویان خبره رایادېده چې په خپل یوه کتاب کې یې خدای ته د لس دوولسو ژبو نومونه کارولي او لوستونکي ته وايي، ته چې ترې هره مانا اخلې، همغه سمه ده. ما هم په دې کتاب کې Meaning کله مانا لیکلی، کله مې ارزښت لیکلی او کله مې موخه لیکلې... . هدف مې یوازې دا و چې کتاب عام او د لوست جوګه شي.
ښايي دا پوښتنه هم وشي چې نوم یې ولې «انسان د مانا په لټون» شو؟ سره له دې چې دلته Meaning په دې مفهوم نه دی راغلی. دلته یوه وړه بېلګه راوړم. ما د ترکۍ لیکوالې ایلیف شافاک کتاب (The forty rules of love) وژباړه او (د مینې څلوېښت اصول) په نوم چاپ شو. همدا کتاب په فارسي کې یوه ژباړن د «ملت عشق» په نوم ژباړلی دی. دواړه همدا یو کتاب دی؛ خو وروسته ډېرو خلکو لیکلي وو چې دا د ملت عشق کتاب باید پښتو ته وژباړل شي، ځکه دوی نه وو خبر چې اصلي نوم یې څه و. یوه کس ته مې چې وویل دا کتاب په پښتو کې (د مینې څلوېښت اصول) په نوم چاپ دی، بېرته یې پر ما نیوکه کوله چې تا د کتاب اصلي نوم ولې بدل کړی دی؟ «دی خبر نه و چې اصلي نوم یې څه دی.» ډېرو ژباړونکو د «ملت عشق» د ژباړلو تکل هم کړی و؛ خو ځینو لوستونکو پوه کړي وو چې دا کتاب په اصلي نوم پښتو ته ژباړل شوی دی.
دلته هم له ما سره همدا وېره وه چې هسې نه زه کتاب «انسان د هدف په لټون» یا «انسان د موخې په لټون» یا حتی «انسان د ارزښت په لټون» چاپ کړم او خلک بیا داسې فکر وکړي چې دا ګنې هغه (انسان در جستجوی معنا) کتاب نه دی. بیا به د همدې یوې کلمې له امله خلک د پښتو پر ځای فارسي کتاب لولي، ځینې به یې د بیا ژباړلو هوډ کوي او ځینې به ما ملامتوي چې د کتاب سم دم نوم مې بدل کړی دی. که له ما پوښتنه وشي چې په ټولو کتابونو کې دې د کوم یوه ژباړه سخته وه، زه به ورته «همدا» کتاب ښیم او که څوک راته ووايي چې په خپلو کتابونو کې راته دې تر ټولو ډېر مهم کتابونه وښیه، یو به په کې «همدا کتاب» ښیم.
انسان د مانا په لټون د ویکتور فرینکل اثر دی، چې د نومړي د ژوند دردوونکې خاطرې بیانوي او هم په بې زغمه ستونزو کې پر ښکېلېدو سربېره د هیلو، انسانیت او ازادۍ په لټه کې پاتې کېږي.
دا کتاب له دویمې جګړې وروسته په ۱۹۴٦ کال لیکل شوی. د نړۍ لسګونو ژبو ته ژباړل شوی او پښتو ژبې ته هم تازه ژباړل شوی او د کتاب بازار ته وړاندې شوی. د یاد کتاب پښتو بڼه ۱۵۲ مخونه لري او په داستاني توګه ټوله کیسه بیانوي.
مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.


روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د حجاز سیلی | عنایت الله التمش/عبدالواسع صابر | ۲۲۰ؐ |
| ۲ | ویستلې توره (لومړی او دویم ټوک) | عنایت الله التمش/ ذبیح الله عطایی | ۳۰۰ؐ |
| ۳ | د بریا سفر | بشیر جمعه/ظاهر عمار | ۱۵۰ؐ |
| ٤ | له ناکامۍ یې زده کړه! | سلوی العضیدان/محمد ظاهر عمار | ۱۲۰ؐ |
| ۵ | د بریا تمځای | عائض القرني/محمد ظاهر عمار | ۱۳۰ؐ |
| ٦ | THE SPEED OF TRUST | STEPHEN M.R. COVEY | ۲۴۰ؐ |
| ۷ | COMMITTE A LOVE STORY | ELIZABETH GILBERT | ۲۴۰ؐ |
| ۸ | FAILING FORWARD | JOHN C.MAXWELL | ۱۴۰ؐ |
| ۹ | BORN FOR THIS | CHRIS GUILLEBEAU | ۲۷۰ؐ |
| ۱۰ | The Magic of Beliebing | Claud M. Bristol | ۱۵۰ؐ |
| ۱۱ | The Startup Way | ERIC RIEs | ۲۴۰ؐ |
| ۱۲ | WAY OF THE WOLF | JORDAN BELFORT | ۱۵۰ؐ |
| ۱۳ | Good To Great | Jim Collins | ۳۵۰ؐ |
| ۱٤ | OPD Oxford picture dictionary-English-persian | Norma shapiro | ۳۵۰ؐ |
| ۱۵ | THINKING FOR A CHANGE | JOHN C.MAXWELL | ۱۷۰ؐ |
| ۱٦ | THE NECTAR OF PAIN | NAJWA ZWBIAN | ۲۵۰ؐ |
| ۱۷ | How to Change Your Mind | Michael Pollan | ۲۵۰ؐ |
| ۱۸ | The $۱۰۰ STARTUP | Chris Gullebeau | ۲۰۰ؐ |
| ۱۹ | The Bezos Letters | Steve Anderson | ۱۷۰ؐ |
| ۲۰ | The Power | Rhanda Byrne | ۳۵۰ؐ |
| ۲۱ | The ٤ Hour Workweek | Timothy Ferriss | ۳۵۰ؐ |
| ۲۲ | اساسات جیودیزی(سروینګ) | شاه ولي خرګند | ۵۰۰ؐ |
| ۲۳ | له ژونده مې دا زده کړل... | مصطفی السباعي/محمد ظاهر عمار | ۱۰۰ؐ |
| ۲٤ | د اوبو لګولو انجنیري | اصغر غفورزی | ۲۵۰ؐ |
| ۲۵ | د لویو لارو انجنیري (سړک جوړونه) | ایس.کی.خانا ، سي يي.جسټو/محمد فرید عاطف | ۲۵۰ؐ |
| ۲٦ | د ودانیو د برآورد لارښود | نورالرحمن نوري | ٦۰۰ؐ |
| ۲۷ | سیول انجنیري | امدادالله جدیدي | ۳۵۰ؐ |
| ۲۸ | عقربه قلب | محمد فتح الله ګولن | ۱۸۰ؐ |
| ۲۹ | راه دشوار | محمد فتح الله ګولن | ۲۰۰ؐ |
| ۳۰ | جاسوسي | فریدالله احمدزی | ۲۲۰ؐ |

په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۵۰ |
| € | ۹۳,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۰۸,۵۰ |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# هغه دلایل چې له دندې څخه د ناراضه کېدو لامل ګرځي

ژباړه: حماد هلال

موږ ټول له دې سره مخ شوي یو چې ځینې وخت له کوم کار څخه کرکه وکړو یا هم زموږ په ملګرو او کورنۍ کې داسې کوم شخص پېژنو، چې له خپل کار سره یې مینه نه لري. د کمو حقوقو تر لاسه کول، بد خویه رییس، کاري ستړیا او داسې نور ډېر دلایل شته چې له کار څخه د ناراضه کېدو لامل ګرځي. له کار څخه نارضایتي کولای شي پر رواني روغتیا، بدني روغتیا او په ټوله کې پر روغتیا اغېز ولري.

**ولې له خپلې دندې سره مینه نه لرو؟**

کار زموږ د ژوند د پاملرنې وړ برخه جوړوي، ولې له زموږ څخه ډېری له خپل کار سره مینه نه لرو؟ څو دلایل شته چې له کار څخه د ناراضه کېدو لامل کېږي.

کم حقوق او لږه ګټه، بد رییس، ناسم کاري فرهنګ، کمزورې اړیکې، ډېر واټن او فشار، ډېر کاري ساعتونه، ضعیف فعالیتونه، له کار سره لږه بلدتیا او ډېره غوښتنه.

ډېری خلک په هغو د لایلو له خپل کار څخه کرکه لري، چې امکان لري هغه دلایل د کار ډول یا د کارځای وي. موږ ډېری له خپلو ملګرو، کورنۍ او حتا همکارانو څخه اورو چې له خپلو دندو څخه شکایت کوي؛ خو دا یوازې په تاسو او هغوی پورې تړلې نه ده، ډېر نور خلک هم دا شکایت کوي.

په ۲۰۲۰ کال کې یو رپوټ کې د امریکا ۴۰ سلنه کارکوونکو د کرونا ناروغۍ له امله د خپل کار کیفیت په اړه بدتر خبر ورکړی و. د ۲۰۲۰ کال څېړنې ښيي چې په ټوله نړۍ کې ۴۴ سلنه خلک له خپل کار څخه ناراضه دي. د ۲۰۱۹ کال ګالوپ یوه سروې خبر ورکوي، چې ۴۴ سلنه امریکایان په منځنیو دندو بوخت دي او ۱٦ سلنه یې وایي چې ښه دنده نه لري.

همدارنګه دې څېړنو کې ویل شوي چې د ژوند کیفیت، د کار له کیفیت سره نږدې اړیکې لري. یا په بل عبارت، له کار سره مینه نه لرل مو د ژوند پر نورو برخو اغېز پرېږدي.

**آیا له کار څخه نارضایتي پر روغتیا اغېز لري؟**

له کار سره مینه نه لرل امکان لري ستاسو د فشار او اندېښنې سبب شي. په استنفورد کې یوې څېړنې ښودلې ده، چې له ۵ څخه تر ۸ سلنې امریکایانو روغتیايي لګښتونه د دوی د شرکتونو د چلند په څرنګوالي پورې تړاو لري. له هغه کار څخه نارضایتي چې دنده پکې مخ ته وړې، پر ذهني او بدني روغتیا اغېز لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

د وزن کموالی او ډېروالی، پرله‌پسې ناروغي، د معدې ستونزې، بې خوبي یا نورې ستونزې، سردرد یا د عضلاتو خوږېدل، د وینې لوړ فشار، ستړیا او اضطرب. که له خپل مسلک څخه راضي نه یاست، نو د ژوند د پایښت لپاره مو څو قدمه واخلئ، څو مو فشار کم شي او له نورو روغتیايي ستونزو څخه په راتلونکي کې په امان کې پاتې شی.

**ولې ډېر خلک استعفا ورکوي؟**

که دنده پرېښودل اسانه کار وی، نو ټولو هغو کسانو به نن استعفا ورکړې وه، چې له خپل مسلک یا کار څخه راضي نه دي. ډېر دلایل شته چې د دې لامل ګرځي څو خلک په خپله دنده یا مسلک کې پاتې شي.

پیسې: که له دندې څخه استعفا ورکړې، نو څنګه به خپل مصارف پوره کوې؟ له یو حقوقي مشاور سره ناسته د دې لامل ګرځي څو ډېری هغه خلک چې له خپل مسلک سره مینه نه لري، هغه مسلک پرې نږدي.

د نورو چانسونو نشتون: هغه دندې چې تاسو ته جذابې او په زړه پورې دي، که درته پیدا نه شوې، نو بیا باید ولې استعفا ورکړې؟ د دندې پر کمبود سربېره د دندو غوښتونکي او سیالان ډېر وي.

ګټې: په هغو هېوادونو کې چې د کارکوونکو لپاره روغتیايي بیمه اخلي، د هغې دندې پرېښودل چې بیمه ولري، یو خطر دی.

د امنیت احساس: د هغو ناپېژندل شوو پېښو پېښېدل چې وروسته له استعفا ممکن پېښې شي، ډېری خلک له دې کار څخه پښېمانه کوي.

د هغو خلکو لپاره څو ټکي، چې له خپل مسلک یا دندې څخه کرکه لري:

**۱ـ له همکارانو سره اړیکه ټینګه کړئ**

د کار په ځای کې د ملګري پیدا کول یوازې د اړیکو جوړولو په پار نه دي، که څه هم دا مسئله ځینې وختونه له تاسو سره مرسته کوي. له همکارانو سره په سالم ډول اړیکې جوړول امکان لري، کار ستاسو لپاره جالب او با مانا کوي. له خپل همکار څخه وغواړئ چې د غرمنۍ لپاره د باندې لاړشئ یا د قهوې څښلو پر مهال سره خبرې وکړئ.



**۲- ستونزې وپېژنئ او د هغې د جبران او اصلاح هڅه وکړئ**

په بېړه له هر ډول پرېکړې نیولو څخه وړاندې اصلاح په نظر کې ونیسئ. که کولای شی هغه ځانګړې مسایل چې د کار په ځای کې ستاسو د فشار او ناراحتۍ لامل شوي، هغه وپېژنئ او د جبران لپاره یې قدم پورته کړئ.

له کوم همکار سره ستونزه لرې؟ له هغه سره د لیدنې لپاره وخت ځانګړی کړئ او خبرې ورسره وکړئ. تاسو نه پوهېږی چې له تاسو څخه څه تمه کېږي؟ له خپل رییس څخه وغواړئ، چې ستاسو دنده درته په وضاحت سره تشریح کړي. په ممکن ځایونو کې د مثبتو بدلونونو راتلل، امکان لري د کار په ځای کې ستاسو د خوشالۍ لامل شي.

**۳- ځان ته د اصلاح لپاره وخت ورکړئ**

که تازه مو دنده پیل کړې وي او پکې خوشال نه یاست، نو د هغې پرېښودل د وسوسو انګېزه ده، مګر بېړه مه کوئ. له یو نوي چاپېریال سره جوړښت، د دندې زده کول او له همکارانو سره بلدتیا کولی شي ستاسو نظر د خپلې دندې په اړه بدل کړي، نو پر دې اساس په تېزۍ سره د دندې له پرېښودو وړاندې هغې ته یو بل چانس هم ورکړئ.

**۴- له کار څخه بهر د خپلې هوساینې لپاره ګامونه واخلئ**

ځینې وخت سړی له داسې ناراحتیو سره مخ وي، چې دنده د هغې لامل ګڼي، خو مسئله له دې هم جدي وي. د فشار، اضطراب او ناراحتۍ د اصلي دلایلو په اړه مو فکر وکړئ. له یو ملګري یا ارواپوه سره خبرې کولی شي مرسته درسره وکړي، څو د کار په ځای کې یا بهر مثبت تغییرات رامنځته کړی.

که ستونزه دا وي، چې د دندې په مقابل کې تر لاسه کېدونکی امتیاز مو نشي بډایه کولی، نو له کار څخه بهر ځان ته ذهني ارامتیا پیدا کړئ. نوي ملګري یا نوي ځای ته چکر کولی شي له کار څخه پاتې دې کوچنۍ خلا په ډکولو کې درسره مرسته وکړي.

**۵- نوې اړیکې جوړې کړئ**

د نوښت یوه تګلاره چې کولی شی په هغې کار وکړی، د اړیکو جوړول دي. له ناظرانو، همکارانو او پېرودونکو سره اړیکې جوړول کولی شي ستاسو د راتلونکې دندې د پیدا کولو کیلي واوسي. تقریباً ٦۰ سلنه دندې له همدې طریقې پیدا کېږي. له خلکو سره خبرې وکړئ او له هغه سره خپل کارت او ویزیټ بدل کړئ. امکان لري یوه ښه اړیکه د یو غوره چانس پیدا کېدو لامل شي.

**٦- له خپلې دندې څخه استعفا ورکړئ**

امکان لري هغه وخت راشي چې له کار څخه استعفا ورکول مو یوازینی انتخاب واوسي. د استعفا ورکولو وخت دا دی: که هره ورځ په وېره او جبر کارځای ته د تللو لپاره له خوب څخه پورته کېږئ؛ که ښه راتلونکی او پرمختګ په دې کار کې نه وینی؛ که ستاسو ذهني او بدني روغتیا پکې په نظر کې نه نیول کېږي؛ که دلته پاتې کېدل او د غوره کار کولو لپاره مو ټولې لارې ازمایلې وي.

د دې پر ځای چې د رییس دفتر ته په چغو او هجوم سره لاړ شی، چې زه استعفا ورکوم، غوره ده چې په ارامه خپله استعفا ولیکئ او په هغې کې خپل ځای ناستی په ګوته کړئ او هغه ته زده کړه ورکړئ.

په یاد ولرئ: امکان لري نوي ځای کې معرفت نامې ته اړتیا ولری یا ممکن ستاسو د نوې دندې دفتر وغواړي چې له پخواني دفتر سره مو اړیکه ټینګه کړي، نو ځان پسې وروسته خرابۍ مه پرېږدئ.

# راپورونه: د امریکا په لسو ایالتونو کې پراخې اورلګېدنې زرګونه کسان د کورونو پرېښودو ته اړ کړي

د راپورونو له مخې، ځنګلي اورونو د امریکا د متحده ایالتونو په لسو لوېدیځو ایالتونو کې ګڼ کورونه سوځولي او زرګونه کسان یې د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کړي دي.

د چارواکو په خبره، دغه اورونه تېره ورځ په ځانګړې توګه په اوریګن ایالت کې زور اخیستی او د کالیفورنیا ایالت د برېښنا سیستم یې له ګواښ سره مخامخ کړی دی. د متحده ایالتونو د اور وژنې د ملي مرکز په وینا، له الاسکا ایالت څخه نیولې تر وایمېنګ ایالت پورې نږدې ٦۰ ځایه په وچو ځنګلي سیمو کې اورونه بل شوي چې په متحده ایالتونو کې د ټول لګېدلي فعال اور نیمايي برخه په اریزونا، اداهو او منټانا ایالتونو کې ده.



د یادونې ده چې په تېرو څو اونیو کې د ګرمۍ د درجې د لوړېدلو په پایله کې د امریکا په ډېریو لوېدیځو ایالتونو کې ځنګلي اورونه بل شوي او ساینسپوهان وایي چې د اقلیم بدلون دغې بې سارې وچکالۍ نور هم دغه اورونه خطرناک کړي دي.

په ورته مهال د امریکا د هوا پېژندنې ملي اداره وایي، په زیاتو سیمو کې د ګرمۍ څپې اوج ته رسېدلي او اټکل کېږي، چې دغه له اندازې ډېره ګرمي به د نن ورځې تر پایه راټیټه شي.

بلخوا د دغه هېواد د نیوادا ایالت د شمالي سیمو زرګونو اوسېدونکو ته خبرداری ورکړل شوی، چې د احتمالي ګواښ د مخنیوي په موخه دې له خپلو کورونو څخه ووځي.

دغه راز د یاد هېواد په کالیفورنیا ایالت کې د برېښنا د لېږد د درې لینونو فعالیت چې ۵۵۰۰ میګاواټ برېښنا دغه ایالت ته لېږدوي، ګډوډ شوی او د کالیفورنیا ایالت د برېښنا اداري له خلکو غوښتي، چې د برېښنا د ذخیره کولو په موخه دې د شپې له خوا له برېښنا څخه استفاده کمه کړي.

د یادونې ده چې د امریکا په لوېدیځ کې د جولای د میاشتې د ګرمۍ څپې د جون د میاشتې له غیر عادي ګرمۍ وروسته رامنځته شوې، چې په سیمه کې د سختې وچکالۍ پایله ده.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer Daily
New Vision, New Journey

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۴مه | ۷۵۰مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۸ | ۴۲ | ۳۸ | ۳۷ | ۲۷ |
| ۱۶ | ۲۱ | ۲۹ | ۲۹ | ۲۶ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۹ | لمر ختل ۰۴:۵۱ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ




## راپورونه: د عراق په یوه روغتون کې د اورلګېدنې له کبله ۵۸ کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، د عراق په جنوب کې د یوه روغتون په یوه څانګه کې چې د کرونا ویروس د ناروغانو د درملنې لپاره ځانګړې شوې، د اورلګېدو له امله لږ نږدې ۵۸ کسان وژل شوي دي.
چارواکي وايي، د دوی لومړنۍ څېړنې ښیي چې دا اور د اوکسېجن په یوه ټانک کې د چاودنې له امله رامنځته شوی وي. د ولایتي روغتیا د څانګې ویاند عمار بشار ویلي، دا پېښه د بغداد د جنوب ۳۷۵ کیلومترۍ کې د ناصریه په روغتون کې رامنځته شوې، چې ۵۸ کسان پکې مړه شوي دي.
د یاد هېواد روغتیایي چارواکو زیاته کړې چې اور کنټرول شوی او د پېښې په اړه څېړنې رواني دي او ډېر ژر به یې پایلې رسنیزې شي. په ورته مهال د عراق د لومړي وزیر دفتر په یوه بیان کې ویلي، چې لومړي وزیر مصطفی کاظمي له وزیرانو سره په دې تړاو بېړنۍ غونډه کړې او د روغتیا، مدني دفاع او د کرونا ویروس د څانګې د مسوول د نیولو امر یې ورکړی دی. د یادونې ده چې په عراق کې کرونا تر اوسه د نږدې ۱۷ نیم زره کسانو ژوند اخیستی او په دغه هېواد کې تر یو میلیون او څلور لکه ډېر کسان پرې اخته شوي دي.

## امریکا: د ایران د اټومي پروګرام په اړه روانو خبرو ته کوم مهلت نه ټاکو

د امریکا متحده ایالتونه وایي، واشنګټن د ایران د اټومي فعالیتونو په اړه اووم پړاو خبرو کې کوم مهلت نه ټاکي، خو د احتمالي اټومي پرمختګ په اړه یې دغه هېواد ته خبرداری ورکړی.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند نېډ پرایس زیاته کړې چې ایران هم خبرو ته یوازې دومره څه لري، چې وایي، د اټومي تړون په اړه خبرې پیل شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ درې کاله مخکې په یو اړخیزه توګه خپل هېواد د ایران له اټومي تړونه وایست، خو د ولسمشر په توګه د جو بایډن له ټاکل کېدو وروسته نوموړي ویلي، که ایران له نړیوالو سره کړې ژمنې پوره کړي، دوی چمتو دي چې یاد تړون ته بېرته ور وګرځي.
د اتریش په پلازمېنه ویانا کې په دې تړاو په پیل شویو خبرو کې د راپورونو له مخې پرمختګ شوی، خو وروستی پرېکړه لا نه ده شوې. بلخوا تېره اونۍ اروپایي قدرتونو او امریکا ایران ته خبرداری ورکړ چې د یورانیمو د پخولو چارې به یې د ویانا خبرې له ګواښ سره مخامخ کړي، خو ایران بیا د امریکا د دغه څرګندونو په اړه تازه څه نه دي ویلي.


## معترضین: از طرف های جنگ می‌خواهیم تا آتش‌بس کنند



در آستانه عید قربان، شماری از باشنده‌گان کندز با راه اندازی اعتراض‌هایی در این ولایت، از طرف های درگیر در جنگ، می‌خواهند تا آتش‌بس نمایند و مذاکرات صلح را از سر بگیرند. این اعتراض کننده‌گان خواستار گماشته شدن مقام های محلی تازه در کندز استند. عایشه، باشنده کندز اظهار کرد: «جنگ را بس کنند و به دولت بپیوندند.»
عبدالعزیز، باشنده دیگر کندز گفت: «هم از دولت و هم از طالبان، خواهان یک آتش‌بس فوری و دایمی استیم.»
در همین‌حال، این معترضان از حکومت می‌خواهند که در جابه‌جایی مقام‌های محلی در کندز، بیشتر از خود کندزیان بهره و مشوره گرفته شود. محمد یوسف ایوبی، رئیس شورای ولایتی کندز ابراز داشت: «کدرهای کندزی، به مشوره‌های بزرگان کندز، باید گماشته‌شوند.»
عبدالظاهر نیازی، نماینده حزب حق و عدالت در کندز اظهار داشت: «یک کسی را می‌آرند که در این اراضی هیچ بلد نیست؛ هیچ نمی‌فهمد خوب و بد کندز را!»
بر بنیاد آمارها، جنگ های سه ماه اخیر در کندز، در حدود دوازده هزار خانواده را بی جا ساخته اند و بیشتر این خانواده ها در اوضاع بدی به سر می برند.
جاوید خان، بی‌جاشده جنگ‌های کندز اظهار کرد: «مال‌ها سوخت و دیگر چیزی نیست! خانه‌ها همه غار و خراب استند.»
نبیله، بی‌جاشده جنگ‌های کندز گفت: «تشنه و گشنه همین‌جا در آفتاب خواب استیم. یک ماه و بیست روز شد که همین‌جا خواب استیم.»

## ژوند


## د نړۍ لومړنی ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی موبایل



سامسُنګ لومړنۍ کمپنۍ وه چې ۱۰۸ مېګاپکسله ورټیا لرونکې کامره یې جوړه کړه، خو دغه کامره تر ټولو وړاندې شیاومي کمپنۍ خپل ځیرک موبایل کې وکاروله. اوس سامسُنګ کمپنۍ ۲۰۰ مېګاپکسله ورټیا لرونکې کامره باندې کار کوي او ډېر امکان لري چې دغه کامره به هم تر ټولو وړاندې د شیاومي کمپنۍ ځیرک موبایل کې وکارول شي. د نویو افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، د سامسُنګ کمپنۍ دغه سېنسر کې به ۱۹۲ مېګاپکسله ریزلوشن موجود وي. د کامرې دغې سېنسر کارولو لپاره پیاوړي پروسېسر ته اړتیا ده. دغه کامره یوازې هغو ځیرکو موبایلونو کې چې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۹۵، ولري کارول کېدای شي. د خپرو شویو معلوماتو پر بنسټ، شیاومي کمپنۍ به خپل راتلونکي تر ټولو غښتلي ځیرک موبایل کې د سامسُنګ کمپنۍ دغه کامره او د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر وکاروي.

## د ځیګر د ناروغیو نښې

ځیګر له سلو ډولونو څخه ډېرې ناروغۍ لري، چې بېلابېل سببونه لري. د بېلګې په توګه، میکروب، شراب، نشه‌یي توکي، ځانګړي درمل، زهر، چاغښت، سرطان او نور. ځینې مبهمې نښې نښانې یې عبارت دي له: د خېټې درد، اشتها ورکېدل، ستړیا، د انرژۍ کمښت او اسهال. کله چې ځیګر ډېر خراب شي، نو بیا لاندې لویې نښې څرګندېږي:
زېړی: د سترګو د سپینوالي تر څنګ ستاسو د پوستکي رنګ هم ژېړېږي چې ډاکتران یې زېړی بولي او دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي، کله چې د وینې په سرو کرویاتو کې ژېړ رنګه ماده ډېره شي او دې ژېړ رنګې مادې ته بلیروبین وايي. د پوستکي خارښت: که چېرته د ځیګر اوږدمهاله ستونزې لرئ، نو د



خارښ احساس به کوئ او دا هغه وخت هم وي کله چې د خارښت هیڅ لامل وجود ونه لري او په همدې سبب په خوب کې له ستونزو سره مخ کیدلی هم شئ. د خېټې سوخت: کله چې مو ځیګر زخم پیدا کړ، نو د وینې جریان پکې درېږي، پر شریانونه فشار راځي، چې بیا په خېټه کې مایع ماده ټولېږي او د درد لامل یې کېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank